**مونږ تاسي ګورو؛ مونږ ستاسي غږ اورو او مونږ همدلته له تاسي سره پاتي کیږو**

**په افغانستان کې د یونیسف د استازي ډاکټر محمد ایویا بیانیه**

د یو کال په تیرېدلو، افغانستان چې پخوا د لسیزو راهیسي د روانو ناامنیو او طبیعي افتونو له امله ځپل شوی وو، اوس له نړیوالي ټولني څخه په واټن کې قرار لري، چې له امله یې د هېواد وضعیت نور هم خراب شوی. وروستی زلزلي او سېلابونه د وحشت، سختیو او زړه بوږنوونکو واقعاتو تازه بېلګي وې.

لکه څرنګه چې زه د تېر یو کال د وضعیت او هغو ننګونو په اړه فکر کوم، چې افغانان او په ځانګړي توګه ماشومان او مېندې ورسره مخ شوي دي، نو زما پیغام دا دی چې زه ستاسي زړورتیا او مقاومت ته سلام کوم. مونږ تاسي ګورو؛ مونږ ستاسي غږ اورو؛ او مونږ دلته له تاسي سره پاتي کیږو.

دا د افغانستان د ماشومانو د یو نسل لپاره خورا حساس او مهم پړاو دی. د هغوي د ماشومتوب دوره له محرومیتونو سره مخ ده؛ د هغوي اړتیاوې په زیاته اندازه نه پوره کیږي او ۱۳ میلیونه ماشومان بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

تېر کال دا مهال، یو میلیون نجوني په ښوونځیو کې په زده کړو بوختي وې، ښځو کار کاوه، روغتیایي سیستم نورمال فعالیت لرلو، د شري او شدید اسهال په څېر ناروغۍ ډېري کمي وې، د اوبو سیستمونه ډېر ډاډمن وو، خواړه ارزانه او د برداشت وړ وو، نجوني په کم عمر کې له واده څخه په ښه توګه خوندي وې او کورنیو د دې وړتیا درلوده چې خپل ځان ته خواړه چمتو کړي.

یو کال وروسته، حالات بل ډول دي. د ماشومانو راتلونکی له خطر سره مخ دی. مګر یونیسیف دلته دی او له تاسي سره پاتي دی؛ موږ له ۷۰ کلونو څخه د ډېري مودې راهیسي د افغانستان د خلکو تر څنګ ولاړ یو او له دوي سره به پاتي کیږو. مونږ د ټولنو هغه باور ته ارزښت ورکوو چې هغوي یې پر مونږ باندې لري، او مونږ به د دې باور د پیاوړتیا لپاره په هغو سیمو کې د خپلو فعالیتونو په پراخولو سره چې مخکې د لاسرسي وړ نه وې، دوام ورکړو ترڅو موږ وکولی شو لا زیاتو ماشومانو او میندو ته د پاکو اوبو او روغتیا پاملرنې، د خوارځواکی درملني او نغدي مرستو تر څنګ د هر ماشوم لپاره رواني ټولنیزې مشورې او زده کړو فرصتونه چمتو کړو.

دا یو ستونزمن کار دی. مګر موږ ته دا ځواک د مسکا په څېر ماشومان راکوي.

ما د مې په میاشت کې له مسکا سره په پکتیا ولایت کې ولیدل. هغه ۱۲ کلنه ده او د شپږم ټولګي یوه ځیرکه او په ژبه فصیحه زده کوونکې ده، نوموړې خپلې مخې ته یوه مایوسوونکی او تیاره راتلونکې ګوري، نوموړې ډاډه نه ده چې هغه او ملګرې به یې وکولای شي چې راتلونکی کال کې خپلو زده کړه ته دوام ورکړي ځکه چې د مارچ په میاشت کې د چارواکو له پریکړې وروسته د لېسې او متوسطه ښوونځیو انجونو ته اجازه نده ورکړل شوې چې خپلو ښوونځیو ته ستنې شي.

ما له مسکا وپوښتل که هغه د شپږم ټولګي نورو نجونو لپاره کوم پیغام لري، هغې وویل، *"لکه څنګه چې زه هیله لرم، لطفاً تاسی هم هیله ولرئ. لکه څنګه چې زه مطالعه کوم، لطفاً تاسي هم خپلې مطالعې ته دوام ورکړئ. او راځئ چې ټول دعا وکړو چې زموږ لپاره له شپږم ټولګي څخه پورته ټولګي پرانیستل شي."*

دا چې یو ماشوم په ۲۰۲۲م کال کې د زده کړو لپاره دعا کوي هغه څه دي چې په مونږ ټولو باندې ډېر دروند مسؤلیت او وزن راوړي. دا په حقیقت کې په افغانستان کې د یونیسف ټیم لپاره ډېر دروند مسؤلیت او وزن دی.

زه غواړم مسکا ته ووایم چې، زه تا وینم، زه ستا غږ اورم، زه او زما ټیم ستا او د هغو ملیونونو نجونو لپاره، چې د زده کړو بې برخې دي، پاتي یو.

یونیسف به د ماشومانو او په ځانګړې توګه د نجونو زده کړې له پامه ونه غورځوي او په دې برخه کې له خپلو هڅو څخه به په شا نشي. هغوي د زده کړو حق لري. یونیسف غواړي چې هره نجلۍ او هلک د افغانستان په هر ګوټ کې په ښوونځي کې زده کړې وکړي. مونږ به ښوونځیو ته د ماشومانو د بېرته راګرځولو په هکله خپلې غوښتنې ته تر هر څومره وخته چې اړتیا وي دوام ورکړو څکه مونږ ګورو چې په ټول هېواد کې د زده کړو غوښتنه ــ د نجونو، پلرونو، میندو، د کلي مشرانو او مذهبي مشرانو ــ له لوړې تر هر وخت لوړه او زیاته ده.
نو، موږ به په ټولو ساحو کې د خپلو پروګرامونو پراختیا او وړاندې کولو ته ادامه ورکړو. د بېلګې په توګه، موږ دا تضمینوو چې د ۲۴۰۰۰ روغتیایی کارکوونکو او ۲۳۰۰روغتیایی مرکزونو په مرسته اساسي ټولنیز خدمات موجود او د لاسرسي وړ دي. همدارنګه، موږ د شدیدې حادې خوارځواکۍ باندې اخته د ۳۰۰،۰۰۰ ماشومانو په درملنې او د تغذیې د مشاورینو د شمېر په دوه چنده کولو سره د خوارځواکۍ د خپرېدو مخه نیسو. موږ د وچکالۍ یا طبیعي ناورین څخه اغېزمنو شویو سیمو ته د اوبو د ټانکرونو د لېږدولو او د اوبو او روغتیا ساتنې سیستمونو د ترمیمولو له لارې د ماشومانو د ناروغېدلو مخنیوی کوو.
موږ د نغدي مرستو له لارې د یو میلیون زیان منونکو خلکو او همدا راز د روحي صدماتو له امله اغېزمن شوي ماشومانو سره مرسته کوو، د بېلګې په توکه د وروستۍ زلزلې ځپلو ماشومانو لپاره د ماشوم دوستانه ځایونو برابرول او رواني ټولنیزو مشاورینو په ګمارلو د هغوی رغول.

او موږ د ۳۸ میلیونه درسي کتابونو په چاپولو، د ۱۲۰۰ ښوونکو د روزلو او د کال تر پایه پورې د محلي زده کړو ۱۷۰۰۰ ټولګیو د رامنځته کولو له لارې ۵۰۰،۰۰۰ ماشومانو ته د زده کړې د فرصت په برابرولو سره د ښوونې او روزنې تقاضا ته رسېدنه کوو.

او ګڼ شمېر نورو فعالیتونه چې مونږ یې په دې برخه کې ترسره کوو.

مګر د افغانستان د خلکو له باور او ملاتړ څخه پرته پورته لاسته راوړنې او د یادو فعالیتونو ترسره کول زمونږ لپاره شوني نه وو.

له همدې امله، په مونږ ټولو او یونیسف ستاسو د باور او اعتماد منندوی یو.